سیدعبدالله نادر
۲۰۲۲/۰۸/۱۴

# درې لنډې کیسې

## ماشومانو د پاره

### انسانیت ته د یو سر تیري خدمت:

یوه واقعي کېسه چې د انسانیت عظیم درس په کې پروت دی،
وایي چې د شرقی آلمان یو سرتیري چې د اغزن سیم یوه برخه یې د یو ماشوم له پاره چې د خپلي کورنۍ څخه پاتي وو ، وشلوله او هغه یې خپلي کورنۍ ته خوشی کړ ، دغه سرتیری د دومره انسانی کار سره سره ،د وطن ته د خیانت په جرم پانسی شو ،دغه متن د ده د خاطراتو له دفتره څخه وروسته د ده له مرګه د ده له کوره څخه لاس ته راغلی ،چې یې لیکلي وو :کله کله انسان جوړیدل ، یا انسانی اوسیدل هم لویه ګناه او جرم دی ،زه اوس په دې پوهیږم چې د یو بی ګناه او معصوم ماشوم چې د جنګ او جګړې قرباني شوی ،هغه ته د خدمت په جرم سبا سهار د مخه د لمر خاته څخه ما د خدای تعال حضور ته لیږي ،او ما خدای تعالی ته سپاري ،خو زه په دې پوهیږم ،چې انسانیت هیڅ کله نه مری ،خو په دې پوه شئ چې کله انسانیت لویه ګناه ده ،د دې سرتیري مجسمه د دنیا په اویا ملکونو کې جوړه شوي،او ۳۱۷ کوڅې په دنیا کې د ده په ویاړ نومول شوي ،او هغه ماشوم هم وروسته د ده دمرګه د یوې عظیمی خیریه موسسی بنسټ اینودونکی په آلمان کې شو ،چې د هغه سرتیري نیت او لر لید د عالم بشریت ته د خد مت په لاره کې ثابتوي ، او انتباهی درس په دې لنډه کېسه کې پروت دی ،نو د ځانه څخه انسانیت په یادګار پریږدئ نه انسان ،ځکه د نسل په تولید باندی هر حیوان هم آشنا دی.

*****

### د غله له پنده ډکه خبره او نصیحت:

وایی چې ابو حامد بن احمد غزالی چې هر څه به یې په فکر کې راغله ،هغه به یې په دفترونو کې د یادښت په ښکل ولیکل ،یوه وخت د یو کاروان سره یو ځای په سفر کې وو ،او خپلي لیکنې او یادښتونه یې ټولي په یوه غوټه کې له ځانه سره اخیستې وي ،کاروان په لاره کې د غلو سره مخ شو ،غلو ټول کاروان لوټ کړ ،خو غزالي غلو ته مخ واړاوه ،او په عذر او زاری یې دوی ته وویل:چې دغه غوټه له ما نه مه اخلئ ،نور چې هر څه ستاسي په کار وي رانه یې واخلئ د غلو شک نور هم په دې خبره زیات شو ، چې آیا په دې غوټه کې به څه وي ،نو غوټه یې خلاصه کړه ،او بغیر د امام د لیکنو نه یې بل څه په کې پیدا نه کړل ،نو یوه غله ترې وپوښتل : چې دا څه دي ؟ امام ورته وویل : دا زما علم او تجربی دي ،دا رانه مه مړیځ؟
غله وویل : هغه علم چې غل یې سړي نه یوسي نو داسي علم به د انسان څه په کار شي ،امام وایي : چې دي خبری پرما ډیر لوی اثر وکړ ، او ماته یې د خودۍ ټکان راکړ ،او تر دې می لوی انتباهی درس نه کله اخیستی وو ،او داسي پند او نصیحت می کله اوریدلی وو ،نو وروسته د هغي په دې تکل کې شوم ، چې علم ساتنه په خپل روح او د ځان په دفتر کې ثبت کړم ،هوکی : لوی دفترد علم او معرفت د ثبت له پاره د انسان د سینې صندوق دی ښایي پوهنې او علم ته په خپل ځان او دماغ کې ځای ورکړو ، او د معارف او علومو کرنه هم باید د زړه په کروندې کې وکړو ،تر څو د هر رنګه ناخوالو او مصیبتونو نه لیری او په امان کې وي ،او واقعی دارایي د انسان هم همدا ده ، او دا وو یو لوی پند او نصیحت چې ما د یو غله څخه واخیست.

*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## پادشاه او هوښيار وزير:

يوه پادشاه په سهوا په چاړه باندى خپله ګوته پرې کړه ، شپه يې په دير زحمت تيره کړه ،چې سهار شو وزير يې راغى ،او تيره شوي کېسه يې ورته وکړه ،وزير وويل چې په دې کې د خداى تعالى حکمت دى ،پادشاه په دې خبره غصه شو ،او وزير يې زندان ته وليږى وزير وويل: په دې کې هم د خداى تعالى حکمت دى، ،د قضا او قدر د لوبو نه ،يو څو ورځې وروسته پادشاه د خپلو درباريانو سره يو ځنګله ته د ښکار د پاره ووته ،وروسته د يو څه ښکار څخه پادشاه د خپلو درباريانو څخه ليرى پاتې شو او ځان يې د ځنګليانو په يوه قبيله کې يواځې وليد ، ځنګليانو پادشاه ګرفتاره کړ او د ونې پورى يې وتړه ،د ځنګليانو دا رسم او رواج وو ، چې هر کال به يې په همدې ورځ يو سالم انسان د همدې ورځې په وياړ قرباني کاوه ، خو د پادشاه ګوتې ته په ليدو سره پادشاه يې خلاص او رخصت کړ ، پادشاه چې د دې ګوتې د غوڅيدو په خاطر له مرګه خلاص شوي وو ، ډير خوشحاله شو او شکرونه يې پر ځاى کړه ،او د وزير د حکمت نه ډک دې خبرى ته متوجه شو ،چې هغه ويلي وو چې په دې کې د خداى تعالى حکمت دى ،پادشاه دربار ته د رسيدو سره ، وزير يې له زندان خلاص کړ ، او خپل حضور ته يې راوغوښت ، او ترېې نه يې عذر وغوښت .د مخه لدې چې وزير رخصت شي نو پادشاه ترې پښتنه وکړه ،نو په دې کې څه حکمت وو چې ته زندان ته لاړې ؟ وزير وويل : د دې حکمت دا وو ،چې زه به تل ستا په رکاب کې وم ، که په دې ورځ زه درسره واى نو زه خو روغ او سلامت وم نو خامخا د دې قبيلې د لرغوني دستور په اساس زه وژل کيدم ،دا د خداى تعالى حمکت دى چې مونږ دواړو ته يې وښوده

---

د فارسى ادب څخه په پښتو ژباړه د ګوګل له سر چينو څخه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ